**د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو شبکې د خبري ناستې اعلامیه**

سه شنبه د ۱۳۹۴ لمریز کال د سلواغې ۲۷ د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د فبروری ۱۶

د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو شبکې؛ د ځوانانو فعال او ستر خوځښت په توګه، د ملکي وګړیو د مرګ ژوبلې د غندلو ترڅنګ، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو څخه د خپل هر اړخیز ملاتړ په لړ کې دا ځل یې د ( د امنیتي بستونو وضعیت او د ترهګرو«القاعده، طالبان، داعش او نورو ترهګرو ډلو» ترسرلیک لاندې مطبوعاتي ناسته جوړه کړې.

د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو شبکه په نني کنفرانس کې لاندې ټکي د ملي او نړیوالو رسنیو له لارې د افغانستان له خلکو او حکومتي چارواکیو او نړیوالو بنسټونو سره شریکوي:

1 - د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو د شبکې په باور.، د یوناما په وروستي راپور کې راغلي، چې څه باندې ۶۱ سلنه د ملکي وګړیو مرګ ژوبله د وسله والو مخالفینو لخوا ترسره شوې. خو ملګرو ملتونو د یوې ناپیېلي بنسټ په توګه باید دا یې هم ویلي وو، چې وسله وال مخالفین د خلکو په منځ کې مورچل نیول او له هغوی نه د سپر په توګه کار اخیستلو له امله د دې مرګ ژوبلې اصلي لامل دی او دا ټکی یې نه باید له یاده ویستلای وای.

2 - موږ په دې باور یوو، چې د هېواد د ټولو ستونزو اصلي لامل ترهګر دی، چې له نړیوالو ترهګرو سره په همغږۍ د ټولو وژنو، ناخوالو او بدبختیو عامل دی. د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو د شبکې په باور؛ ټولو ته روښانه ده، چې د ترهګرو ځالې په پاکستان کې او د دې هېواد د څارګرې ادارې په ملاتړ شتون لري او له هغه ځایه د خپلو او ملاترو د شومو موخو لپاره عمل کوي. که چیرې نړیوال بنسټونه په ځانګړې توګه ملګري ملتونه د ورته راپورونو په خپراوې سره د حقیقت په لټه کې وي، نو باید یې په افغانستان کې د ملکي وګړیو د مرګ ژوبلې اصلي لامل له پاکستان نه هم یادونه کړې وای، خو په خواشینی سره د څرګنده او پټو دسیسو په لړ کې د دې احتمال ځي، چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د کمزورتیا په برخه کې ستر پروګرام په لاره اچول شوی، چې د افغانانو له انده د منلو وړ نه دی.

3 - شبکه یو ځل بیا د امنیتي ځواکونو په رهبرۍ کې په ځانګړې توګه د ملي دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت کې ټینګار کوي او څرګندوي، چې دواړه امنیتي بنسټونه او د ملي دفاع وزارت کې د سرپرست دوام د دې لامل شوی، چې له یوې خوا د خیالي سرتیرو شمېر زیات شي او له بلې خوا د هېواد د ثبات ټینګښت او د امنیتي وضعیت مدیریت د یادو چارواکیونه بهر شي. د دفاع وزارت سرپرست، د کورنیو چارو وزیر او د حکومت مشران باید د هغه زرګونه سرتیرو په اړه چې شتون نه لري او په نوم یې امکانات اخیستل شوي باید افغان ولس ته روښانه ځواب ووایي او همدارنګه دې پوښتنې ته باید ځواب ورکړي، چې ۲۵ زره خالي بستونو برخلیک څه شوی او پایله یې څه ده؟

4 - د سولې د خبرو بهیر له پوښتنو نه ډک بهیر دی، چې د افغانستان حکومت د خبرو له بهیر نه او همدارنګه د سولې نقشې نه چې ولسمشر غني یې په اړه یادونه کړې؛ د افغانستان له خلکو په ځانګړې توګه له سیاسي خوځښتونو، مدني بنسټونو...... سره دې شریک شي څو دا ملي بهیر له ستونزو او ابهاماتو سره مخ ته لاړ نشي.

5 - په عین حال کې د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو شبکه؛ په هېواد کې د شته امنیتي وضعیت او د ترهګرو (القاعده، طالبان، داعش او نورو ترهګرو ډلو) د بریدونو زیاتوالي نه د اندیښني ترڅنګ له افغان حکومت نه ځواب غواړي، چې د دې ګواښونو په وړاندې څه چمتوالی لري او څه پروګرامونه تر لاس لاندې دي او په هېواد کې د امنیتي وضعیت ښه والي په موخه یې څه عملي ګامونه په پام کې نیولي؟ څو بیا ځلي د کندز په شان د ولایت د سقوط شاهد و نه اوسو او یا هم لوی هلمند او د هېواد نورې سیمې په دوامداره جګړه کې و نه ګورو.

و من الله توفیق

د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو شبکه

د بیان مطبوعاتي تالار - کابل